سمیع الدین افغانی ۲۰۰۹/۰۵/۱۹م

# ټولټاکنی او د هغه ارزښتونه

په افغانستان کي د جمهوري رياست لپاره ټولټاکني او د هغه ارزښتونه زموږ د هيواد په اوسني خاصو تاريخي شرايطوکي ۰
که څه هم د څو لسيزو کورنيو جګړو چه دکورني معامله ګرو او د پردو هيوادونو د غير مستقيم اومستقيمو لاس وهنو په نتيجه کي زمونږ ګران هيواد د نوو او عصري سلاح ګانو د آزمايشاتو مرکز وګرزاوه او زموږ ډېر هيواد وال يې د مرګ ژوبلي او بدبختيو کندي ته ګذار او ډېر نور يې د خپلو کلو باندو او پلرني مينو څخه اجباري مهاجرتونو ته اړباستل ۰

خو کله چه په وطن کي د ديموکراسی نارې سوري پورته شوې او په وطن کي دبيا رغوني شعارونه او وعدې خلکو ته ورکړ شوې ، افغانان هم لکه څنګه چه اوږدو کورني جګړو څخه ستړی شوی وه ، نو اکثرو يی د صلحی سياست ته غاړه کيښوده اوورته يی د اميد په ستر ګو وکتل ۰
داسی تمه پيدا وه چه ګوندی دافغانستان په خلکو سپين ګيرو ،کونډو او يتيمانو به نور رحم وشی او د افغان ولس دی نه بښونکی تراژيديو ته به د پای ټکی کيښودل شی او ولس ته به دحد اقل ژوند د آسانتياو لپار وطنی ، انسانی او اسلامی ګامونه پورته شی۰

که څه هم داوږدو جنګو او کورنيو تربګنيودختميدو لپار ه د بـــن د کنفرانس نه وروسته په لمړی يـــو دوه کلونو کی د بعضی بنيادی اواساسی ارزښتونو لپار څه نيمګړی ولی ضروری ګامونه اوچت شول او وطن کی د کورنی ورور وژنی او دټوپک په ځای د قلم او سياسی مبارزی لپار ه څه زمينه برابره شوه د صلحی، وروړګلوی ، وطن ته دخدمت او اسلاميت شعارونه ورکړل شول خومتاسفانه اکثرو ټوپکمارو ددی شعارونو او فرصت څخه ناوړه ګټی پورته کړی او خپلو شوموهيلو او ارزوګانوته ورسيدل ، دوی نه تنها ځانله بلکی د خپلو اولادونو لمسيان او کړوسيان لپار ه بلند منزلی او شيشه يی قصرونه اباد او په ميلننو ډالر يی په پرديو هيوادونو کی سپما او ذخيره کړل .

دوهم کوم اساسی او بنيادی ګام چه پورته شو هغه په وطن کی د اساسی قانون نافذيدل وه دا هم د هغه بنيادی کارونوله جملی څخه وه چه هر هيواد دد ی قوانينو پر بنا خپل ورځنی ژوند ديو اجتماعی نظم په مقصد د دولت او اتباعو حقوق، مسوليتونه او وجايب تعينوی او دهيواد هر وګړی موظفوی چه هغه مراعت کړی تر څو هر څوک ددی بنيادی قوانينوپر بنيادپه اطمينان سره خپل ورځنی ژوند ته ادامه ورکړی او دبل دتيری څخه په امان کی وی ۰
دا چه زموږ قوانين څرنګه زموږ په خلکو عملی شو چا دی قوانينو ته درناوی وکړ او څوک دی چه همدا اوس يی هم دخپل ټوپک دقانون په زور پدی بيوزلو او غمزپلوخلکو څه وکړل ، څه کوی او څه کول غواړی؟ زه فکر کوم چه زموږ هيوادوالوته پدی برخه کی پوره او کافی معلومات شته او د ژونديو بيلګو شاهدان دی چه لازمه نه ګڼم د هيوادوالو په زخمونو مالګی وشيندم خو صرف دومره ويل غواړم چه زموږ هيواد وال بايد خپل دوستان او دښمنان وپيژنی، څوک دی چه د وطن تاريخ ته په سپکه ګوری او زموږ تاريخی افتخارات لوټوی ، زموږ ژبی مليتونه او قومونواوافغانی قوانينو ته په سپکه ګوری ،په وطن کی د پردو په لمسه قومی،ژبنی او سياسی اختلافونو ته لمن ووهی اوغواړی چه دافغانانو په مشترک کور کی، کورکی جوړ او د فدراليزم پر بهانه په ډير سپين سترګی او مهارت زموږ په وطن کی د بی اتفاقيو او تجزيی اساس کيږدی اوهمدارنګه څوک دی چه دوطن ، خاوری او ارضی تماميت ته په درنه سترګه ګوری ؟

دريمه اساسی مسله کوم چه پدی جريان کی ورته توجه وشوه په وطن کی د مقننه ، قضايه او اجرايه قوو د ايجاديدلو اقدامات دی ۰زموږ په وطن کی ټاکنی او پارلمان ايجاد کړل شو ۰
خو اساسی مسله داده چه وطن ته دبادرد ه ،مبتکر، مستعد ،تعليم يافته او پاک نفسه کدرونو اړين ضرورت دی چه متاسفانه پدی برخه کی کمه توجه وشوه او کار اهل کار ته نه بلکه د مصلحتونو پر بنا کدرونه مينځ ته راغلل او اداری فساد خپل اوج ته ورسيد او همدا وجه ده چه دخلکو او دولت تر مينځ ورځ تر ورځی واټن زياد او خلک ورو ورو د دولت نه لريوالی اختيارکړ چه اوسنی امنيتی وضعه ددی خبری ژوندی بيلګه ده ۰


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

څلورمه اساسی خبره داوه چه په بین المللی کچی افغانستان ته د جهانیانو توجه راوګرزیدله ، دنیاوال په افغانستان کی د القاعدی او فندهمیتالزم دمینځه وړلو په بهانه

ځانونه دی خاوری ته راورسول چه متاسفانه دوی یا دافغاستان پنځه زره کلن تاریخ دقیق نه وه مطالعه کړی اویا که کړی هم وه صحیح برداشت یی تری نه وه اخستی، همدا وجه وه چه د دومر ه ځانی او مالی تلفاتو تر څنګ پدی پوه نه شول چه د مشکلاتو اصلی غوټه چرته ده څوک دی چه دا لوبه یی شروع کړی او ددی لوبی بنیادی مرکزونه چرته او فعلا د چا له خوا حمایه کیږی ؟

که چیری جهانیان په راس کی د امریکی متحده ایالات دی پوښتنو لپاره دقیقی او واقعبینانه څیړنی او ځواب ورنه کړی دا تراژیدی به ډیر کلونه نور هم دوام وکړی ۰

موږ دا منو چه د امریکا متحده ایالات د یو ابر قدرت په صفت دا امکانات په لاس کی لری چه مسایل او اوضاع په دقیقه توګه تحلیل او ارزیابی کړی اویا به یی ارزیابی کړی وی ، خو زه صرف د لوستونکو او جهانیانو توجه یوی پوښتنی ته اړوم هغه دا چه د امریکا متحدایالا ت اضافه له دیرش کلو هغه اقتصادی مرستی چه د تروریزم او القاعدی د مینځه وړلو په مقصد د پاکستان سره کړی ، ایا ددی پوښتنی سره نه ده مواجه شوی چه دا مرستی نه چیری دڅه لپار او په کوم مقصد استعمال شوی ؟،که څه هم جها نیان اوس اوس پدی پوه شوی چه په پاکستان کی د دوه مخی سیاستو تر څنګ دو قسمه موضعی ګیریګانی شته چه هغه عبارت دی ۰

اول ؛ په پاکستان کی دملکی حکومتونو پالیسی چه په ظاهره کی نرمه اود عدم مداخلی پالیسی ،اما په باطن کی ډیر محیله او مداخله ګره او دوه مخیزه پالیسی ده چه همسایه ملکونه ، جهانیان حتی نن سبا خپله پاکستان پدی اورکی سوزیدلی او سوزیږی ۰

دوهم ؛ په پاکستان کی د پوځیانو پالیسی چه هغه مطلق د تروریزم ، القاعدی او نور تروریستی مراکزو د تربیه ،حمایه او د هغوی استعمال ددوی اصلی او اساسی ستراتژی تشکیلوی . د پاکستان اصلی پالیسی میکران د تروریستانو په وجود کی خپله حیاتی او اوږدمهاله ګټی خوندی کول غواړی۰

ځما په اند که څوک د تروریزم سره په رښتیا مبارزه کول غواړی ښه به دا وی چه دهغی ریښی له مینځه ویوړل شی چه داریښی د پاکستان نظامیان او جهانی تروریزم دی چه ددوی دحمایی څخه برخورداره ، سیمه ، جهان او حتی خپله پاکستان یی هم د جدی ګواښ سره مخامخ کړیدی ،اوهغی ته اساسی توجه بایدوګرزول شی نه دا چه د هغو ی د تقویی ا و حمایی لپاره نوری اقتصادی مرستی او ژمنی زیاتی شی ۰

نن دا تروریریزم د اسلام آباد په سل کیلو متری کی قرار لری چه دا خپله لوی ګواښ دی په سیمه او جهان کی دصولی امنیت لپاره ۰

پنځمه اساسی مسله دا وه چه دجهانیانو له خوا افغانستان ته د بیا رغونی په مقصد په مختلفو برخو کی په ملیاردونو اقتصادی مرستی وشوی چه متاسفانه د بعضو دولتی مسو لونو، موسسو او انجو ګانو له خوا دا پیسی حیف میل او غیر مسولانه ، او روبنایی پلانونو په تطبیق څه نا څه مصرف اوددی پر ځای چه په وطن کی د بیا رغونی او د خلکو د سوکالی لپاره مثبت ،زیربنایی او اساسی ګامونه اخستل شوی وای متاسفانه ددی امکاناتواو فرصت څخه لازمه ګټه پورته نشوه ۰

که په دقیقه توګه وکتل شی ددی کمکوسره سره ددی پر ځای چه زموږ د خلکو د ژوند کچه لږ تر لږه لوړه شوی وای برعکس ولګه ،بیکاری او بی امنی خپل لوړ کچی ته رسیدلی اوخلک هره ورځ د نویوتراژیدیو شاهدان دی ۰

زموږ په هیوادکی د ابو سرشاره منابع اوپه کافی اندازه دبندونو دجوړولو امکانات شته چه ددی بندونو او کانالونو په جوړول سره په زرهاوو جریبه ځمکی خړوبیدلی شی ، په کافی اندازه د برق دتولید امکانات شته چه زموږ زیاتره هیواد والو ته د شغل پیداکولو امکانات برابروی چه په ډیر تاسف سره باید ووایو چه دی ټکی ته کمه توجه شوی او په ډیرو ګذافو مصارفو د برق انرژی د همسایه هیوادو نه تمویلیږی چه زموږ دګران وطن د روښنایی اختیار د پردو په لاس کی او هر وخت چه وغواړی موږ تروږمی ته کینولای شی، ددی په ځای چه دننه په وطن دداخلی امکا ناتو د احیا لپاره کارشوی وای بلکه په غیرو بنیادی کارونو مصروف یو ۰

په همدی ترتیب زموږ په هیواد کی د تاریخ په اوږدوکی ډیر ښه فرصتونه برابر شوی چه باید په همغه خاصه موقه کی تری مثبته ګټه پورته شوی وای چه متاسفانه دا فرصتونه دلاسه تللی چه ورسته بیا تاسف او پښیمانی کومه ګټه نده کړی۰

د پورتنیو واقعتونو پر بنا غوارم د هیواد والو توجه یوبل اساسی مسلی او فرصت ته راوگرځوم چه هغه په هیواد کی د نوی زعیم  د انتخابیدلو یا د جموری ریاست د ټولټاکنوپروسه ده ۰
زمامطلب ددی لیکنی  څخه دا ندی چه د کوم مشخص کاندید د تبلیغاتی کمپاین لپاره کار وکړم ولی اساسی هدف دادی چه که وکولای شی افغانان په اتفاق او تفکر سره دخپل هیواد سرنوشت د داسی زعیم په لاس کی ورکړی چه په پوهه، متانت او قوی افغانی احساس سره دی ټولو بدبختویو ته د پای د ټکی اینسودو لپاره په قوی ، علمی او افغانی ارادی او عزم افغانی ولسونو ته ددی غم ځپلی حالت څخه د تاریخ پدی خاصو شرایطو کی د لوی اومهربان خدای په فضل او کرم نجات   ورکړی.

د یو سر لوړی ، هوسا او خپلواک افغانستان په هیله

ومن الله توفیق


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de